# سلیم راز د یو ترقي پسند شاعر په حیث

## SALIM RAZ AS A PROGRESSIVE POET

Sayed Mohsin Shah [1]
Dr.Qadar Wahid (Samandar Yousafzai) [2]

## Abstract

*Saleem Raaz was a progressive poet and writer. He dedicated his life to the well-being and prosperity of the poor, downtrodden and oppressed people of the society. His poetry shows that he was a true nationalist, but did not believe in narrow nationalism. He was a poet of love and peace. He fought against all kinds of tyranny, injustice, oppression, ignorance, poverty, war, exploitation, sectarianism and extremism.*

سلیم راز یو ګڼ اړخیز شخصیت وۀ، هغه په یو وخت ښۀ شاعر او ادیب، بې لوثه سیاست مدار، بېباکه نقاد او جرات مند صحافي وۀ، هغه د یو مترقي ذهن خښتن او قام پرست شاعر او لیکوال وۀ ـ د تیټې او زپلې طبقې حمایتي او مرستیال وۀ ـ انقلاب ئې مقصد او مرام وۀ، د بې وسه او بې وزله خلقو د ژوند ښۀ کول ئې ارمان وۀ، دې دپاره ئې زبردسته مبارزه کړې ده او په دې مبارزه کښې تر اخره کلک او مستحکم ولاړ وۀ ـ د هغۀ د فکر کینوس ډېر پراخه دے، شاعري ئې د یو خاص سوچ، فکر او نظریې نه چاپېره چورلي ـ د هغه هر شعر ، هر لفظ او هر یو لیک نه د ترقي پسندو افکارو څرګندونه کیږي ـ د سلیم راز په ترقي پسندۍ د بحث کولو نه وړاندې ضروري ګڼم چې د ترقي پسندۍ تعریف وشي ـ ستر لیکوال کاکاجي صنوبر حسېن د ترقي پسندۍ په اړه لیکي:

" مونږ که یو فکر وکړو چې مونږه وروسته یو، مونږ پاتې یو او دا واقعي ده نو اوس دا خبره اسانه شوه چې ترقي پسندي څۀ ته وائي ـ د یو پرېوتي قام زیاتې پرېوتې، محتاجې او بې وسه طبقې له ترقي ورکول، هغو ته په انسانیت کښې خپل مقام

[1] PhD scholar, department of Pashtu, University of Malakand
[2] Lecturer, department of Pashtu University of Malakand

ښودل، د هغوي اخلاقي، روحاني او اقتصادي حالت ښهٔ کول ترقي پسندي ده ـ "[1]

سليم راز په خپل کتاب تنقيدي کرښې کښې د ترقي پسندۍ تعريف څهٔ داسې کوي:

" ترقي پسندي څه مذهب يا عقيده نهٔ ده او نهٔ څه مخصوص او جامد نظريه ده ـ دا يو سوچ، يوه رويه او يو عمل دے ـ د خپل عهد او حالاتو په تناظر کښې ئې تعين کيږي، [3]هر هغه سوچ، هغه رويه او هغه عمل ترقي پسند بللے شي چې انسان او انساني سماج په وړاندې بيائي ـ ارتقاء غواړي، ارتقاء کوي، هم دغه ترقي پسند اديب، شاعر او فنکار د انساني معاشري ضمير بللے شي او هم دغه د تنقيد او نقاد د قام او وطن په صحيح معنو کښې مسيحا او رهنما وي ـ د نني عهد په سياق او سباق کښې هر هغه ليکوال او فنکار ترقي پسند دے څوک چې روشن خيال، ازادي خواه، جمهوريت پسند، انسان دوست او د سامراج دشمن دے"[2]

د پورتني بحث په تناظر کښې چې د سليم راز په کار او زيار نظر واچوو نو په دې نتيجه به ورسو چې هغه يو ترقي پسند شاعر او ليکوال دے ـ ځکه چې روښان فکره، ازادي خوښے، جمهوريت پسند، انسان دوست او استعماري قوتونو سخت مخالف دے ـ

د ترقي پسندۍ سره د خپل تړون اظهار څه داسې کوي:

" ترقي پسند تحريک سره ذهني تړون د مخکښې نه وۀ، کله چې په ساهو ليکونکيو مرکه کښې ترقي پسندو اديبانو سره ناسته ولاړه اوشوه، اجمل ختک سره پېژندګلو اوشوه او بيا د پي آئي اے مزدورانو ادبي مجلې منشور باقاعده مطالعې زۀ ترقي پسند ادب سره اشنا کړم ـ او د ادب لطيف په شان ځينو نورو ادبي مجلو زما فکري او نظرياتي روزنه وکړه ـ او

> بیا وروسته په تحریکونو کښې شمولیت او ترقي پسند جدوجهد زما د ترقي پسندی تړون نور هم مضبوط او مربوط کړو ـ البته انجمن ترقي پسند مصنفین کښې مې په باقاعده او عملي ډول شمولیت په کال ۱۹۸۶ء کښې وکړو ـ کله چې په کراچۍ کښې د انجمن ګولډن جوبلي کانفرنس کېدلو او زۀ د پښتونخوا صوبې د ادبیانو سره رابطې او کانفرنس د انتظاماتو دپاره کنوینر مقرر کړے شوم او بیا د کانفرنس په اختتام په پښتونخوا کښې د تنظیم کاری ذمه وارې راپغاړه کړے شوې ـ "[3]

د امیر کروړ نه واخله تر دې دمه د پښتو شاعرانو په شاعرۍ کښې مترقي فکرونه بریښي ـ ځکه چې دوي ټول عمر د یرغلونو او دسیسو ښکار پاتې شوي دي ـ دوي د هر ظالم، جابر، حاکم په ضد اواز پورته کړے دے ـ د رحمان بابا غوندې صوفي بزرګ هم خپل جابر حاکمان غندلي دي ـ او د هغوي په ځینې کارونو ئې بد وئیلي دي ـ سلیم راز د یو رسا او پارسا فکر څښتن وۀ، تل د ظلم، جبر زور زیاتي او بې انصافۍ په ضد جنګېدلے دے ـ خپل مترقي افکار ئې اولس ته رسولي دي ـ اولس ئې د عصري غوښتنو او د راتلونکېو پېښو او خطرو نه خبر کړے دے ـ په دې وجه د هغه تعلیم هم نیمګړے پاتې شوے دے او هیڅ قسمه د سرکار نوکري ئې هم نۀ ده کړې ـ ځکه خو هغه په ادبي نړۍ کښې د کل وقتي ادیب په نوم یادیږي ـ د پرېوتې او زپلې طبقې د سوکالۍ او خوشحالۍ دپاره ئې داسې مبارزه کړې ده چې مثال نۀ لري ـ ستر شاعر رحمت الله درد د هغه په حقله وائي:

" خلق خبري کوي او سلیم راز کار کوي"[4]

د انجمن ترقي پسند مصنفین د منشور ترمخه حسن ، صداقت، ازادي، انسان دوستي، مینه محبت د اعلیٰ ادب توکي دي ـ دا ټول توکي د سلیم راز په شاعرۍ کښې ډېر په ځرګند ډول په نظر راځي ـ

رښتیا وئیل:

جان کیټس د حسن او صداقت په حقله وائي چې

" حسن صداقت دے او صداقت حسن دے دا پوره ده، تاسو له پکار دي چې د دې حقیقت نه خبر کړئ "

اروابشاد سلیم راز "تنقیدي کرښې" کښې لیکي چې دا شان فیض احمد فیض د کیټس په دې قول چې صداقت حسن دے او حسن صداقت دے تبصره کښې وائي چې" زما په نزد صداقت رښتیا د ګېر چاپېره مادي حقیقتونو د ادراک دویم نوم دے ــ " ــ د ترقي پسند ادبي تحریک یو باني او لارښود علي سردار جعفري د فیض د دې وینا په تسلسل کښې وائي چې:

" په نني دور کښې دغه حسن او صداقت د انسانیت اجتماعي ضمیر دے او ترقي پسند تحریک د شلمې صدی د انسان د بیدار ضمیر صدائي بازګشت دے"[5]

سلیم راز څوک چې یو ښکلے او سپېڅلے انسان وۀ په رښتیا او ښکلا ئې یقین او ایمان وۀ ــ ځاے په ځاے د هغه په شاعرئ کښې د رښتیا او ښکلا ذکر کیږي ــ لکه چې وائي:

" داسې ژبه او قلم که سلامت وي څه مطلب ئې
چې تبلیغ پرې د ښکلا او صداقت کولے نۀ شو"[6]

"خپل پردي رانه ناراضه وي تول رازه
دا رښتیا دي چې رښتیا وئیل تراخه دي"[7]

انسان دوستي:

ستر لیکوال میر عبدالصمد خان په خپل کتاب "رحمان بابا شاعر انسانیت" کښې لیکي:

"شاعر سب کے لئے خیر سگالی اور بھلائی کے جذبے رکھتا ہے۔ دنیا میں کسی کو بھی تکلیف پہنچے اس کا دل صدمہ اور غم کے درد سے بے قرار ہونے لگتا ہے۔

خنجر چلے کسی پہ تڑپتے ہیں ہم امیر
سارے جہاں کا درد ہمارے جگر میں ہے"[8]

د ترقي پسند شاعرانو د دردمند انسان سره مینه او همدردي د هر چا نه زیاته وي ـ سلیم راز خو یو دردمند زړۀ لري ـ هغه وائي چې مونږ له پکار دي چې د انسانانو په حېث د یو بل سره مینه وکړو، د یو بل په غم درد کښې شریک شو، ځکه چې ټول انسانان الله پاک پېدا کړي دي ـ خدائے پاک په خپله وائي چې تاسو د یو بل سره مینه او حسن سلوک کوئ ـ د هغې په بدل کښې زۀ په تاسو خپل رحمتونه پېرزو کووم ـ سلیم راز وائي چې بغېر د څه امتیازه زۀ د ټولې نړۍ باشنده یم، د نېشنلسټ نه د هغه سوچ انټرنېشنلسټ شوے دے لکه چې وائي:

" سرحدونه مې نظر کښې نۀ ځائیږي
د نړۍ د هر وطن زۀ باشنده یم ":[9]

بیا وائي:

"غوارمه داسې یو جهان چې په کښې
مینه انسان سره انسان چې کوي"[10]

مینه محبت:

ترقي پسند شاعران غواړي چې هر اړخ ته دې ښکلا، رڼا، امن، خوشحالي، رنګیني، مینه او محبت وي ـ د جهالت دښمنۍ تربګنۍ، ظلم او بې انصافۍ نه نفرت کوي، ترقي پسند وائي چې مینه وکړئ، مینه خپره کړئ، او مینه وشیندئ ـ ځکه چې

مینه ژوند دے او ژوند مینه ــ د اروا ښاد سلیم راز ټول ژوند هم د دي فلسفې نه عبارت دے لکه چې وائي:

"ژړۀ د مینـــې صـــحیفه ده
چــې ښـــکلا ئـــې ســــریزه ده
محبــــت د زنــــدګی خـــو
طریقـــه ده ســـلیقه ده"[11]

هغوي وائي چې د چا په زړۀ کښې دا سپېڅلے احساس نۀ وي ، هغوي کښې شعور هم نۀ وي، د ژوند ئې هیڅ قاعده، اصول او دستور نۀ وي، بې مینې ژوند خو د ځناورو هم وي ــ هغه وائي:

"هغه د ژونـد هېڅ شـعور نـۀ لـري
څوک چې د مینې څۀ دستور نـۀ لـري"[12]

ازادي:

سلیم راز د یو ترقي پسند شاعر په حېث د فکر او نظر ازادي غواړي، په زړۀ، ذهن او نظر د هیڅ قسمه قېد وبند منلو ته تیار نۀ دے ــ ځکه چې انسان په فطري توګه ازاد پېدا شوے دے ــ لکه د ازاد مارغه په ازاده فضا کښې اوسېدل غواړي ــ هغه وائي چې ذهنونه مو شل شوي دي ــ قلم کښې هتکړی دي ــ په تقریر او تحریر پابندي ده، تشه په نوم ازادي ده، تش په نوم جمهوریت دے ــ هغه وائي چې د پابندی سره ذهنونه د جمود ښکار شي ــ خلق د وړاندې تللو جوګه پاتې نۀ شي ــ سلیم راز وائي:

"ســانحه بـــه د دي دور نـــوره څـــه وي
په قلم کښې هم پرتې چې هتکړی وي"[13]

هغه د یو مبارز او انقلابي په حېث د خپل اولس شاه زلمو ته ډاډ او حوصله ورکوي او په ډېر جرات سره وائي ــ :

"په غېږ او غوږ چې پابندي لګوئ
درنه ایسار د فکر یون په نۀ شي"[14]

## انقلاب او طبقاتي مبارزه:

هر یو ترقي پسند لیکوال د اولس په ژوند کښې مثبت بدلون راوستل غواړي، د خوار، غریب، مزدور، دهقان او بې وزله خلقو ورځ ښۀ کول غواړي ــ د هغوي بده ورځ نۀ شي برداشت کولے ــ دا بدلون د انقلاب نه بغېر ممکن نۀ دے ــ د انقلاب دپاره سلیم راز نظریاتي او عملي مبارزه کړې ده ــ انقلاب ئې د ژوند هدف او ارمان وۀ ــ او په ټولنه کښې ئې د طبقاتي شعور پېدا کولو دپاره شعوري هڅې کولې ــ ځکه چې زمونږ ټولنه په طبقاتو کښې تقسیم ده ــ دغه تقسیم دغه نظام ډېر اړے ګړے پېدا کړے دے او د بې اتفاقئ، غربت، جهالت، بې انصافئ یوه ډېره کړکېچنه فضا ئې پېدا کړې ده ــ هم دغه د سرمایه دارانه او جاګیردارانه نظام مقصد او مرام دے ــ د خولې ، وینې او اوښکې قدر نشته، د مزدورانو، خواري کښو حقونه د پښو لاندې کیږي ــ دهشت او وحشت ورځ په ورځ زیاتېږي ــ ځکه خو د انقلاب ارماني زړۀ راسپړي او وائي:

" چې خوله اوښکه او وینه شي بې قدره
داسې حال کښې انقلاب ته ضرورت دے"[15]

یو داسې انقلاب چې طبقاتي تضاد او نسلي امتیاز ختم کړي او د ظلم، جبر ، جنګ، لوږې ، غربت، جهالت، فرقه واریت په ځاے مساوات، عدل، ورورولي، سوکالي او خوشحالي راولي یو نظم "انقلاب انقلاب " کښې ئې په دې خبره زور اچولے دے، چې د انقلاب سره به ټولې ستونزې هوارې شي او تورتمونه او ظلمونه به سر اوخوري ــ د زر او زور نظام به هم ختم شي ــ لکه چې وائي:

" په اولس کښې طبقاتي شعور اوس عام دے
ختمېدونکے زر نظام د زر او زور دے"[16]

د مزدور سره مینه او مرسته:

لکه څنګه چې وړاندې ذکر اوشو چې ترقي پسند لیکوال که د نړۍ د هر ګوټ سره تعلق لري، د مزدور خواره او ناداره ورځ نۀ شي لیدے ـ د سلیم راز د ژوند مقصد دا وۀ چې د خوارانو غریبانو ژوند کښې بدلون او سکون راشي، د دوي بدې ورځې ښې شي او د دوي ستونزې هوارې شي ـ هغه د ادب ، سیاست او د صحافت د مېدانونو شهسوار وۀ ـ او د دغه درې واړه مېدانونو نه ئې د غریب د حق اواز پورته کړے دے ـ د خوارانو، غریبانو او مزدورانو په مرسته کښې وائي:

"که مونږ نادار بادار په دار خېژوي
رازه د خوارو حمایت به کوو"[17]

سلیم راز په دې شعر کښې څومره ښکلې نقشه راښکلې ده چې، تاج محل د شاه جهان بادشاه د مینې یادګار نۀ دے، دا د مزدورانو په وینو، زوۀ جوړ شوے دے ـ دا د مزدورانو د خولو او وینو یادګار دے لکه چې وائي:

"تۀ یادګار د مینې نۀ ئې تاج محله
ستا د لاندې چخنې شوي مزدوران دي"[18]

د ترقي پسندو شاعرانو شاعري د مزدورانو او خوارې کښو سره د مینې محبت نه ډکه وي ـ د سلیم راز شاعري د دې محبت تر مخه لوے ارزښت او قېمت لري ـ

د زنانۀ مرسته:

لکه څنګه چې لوے ډرامه نګار او شاعر ویلیم شکسپئیر ډېر پخوا وئیلي وو چې ښځه د بې بسی او کمزورئ دوېم نوم دے ــ حقیقیت دا دے چې ښځه په بدني توګه کمزورې او نازکه وي ــ د سختو او تکلیفونو د برداشت توان ئې د نر په نسبت کم وي ــ څکه خو د ښځې په حقونو ډاکې اچولے شوې دي ــ په جائیداد کښې د برخې نه محرومې ساتلے شوې دي ــ د صحت او تعلیم خیال ئې نۀ دے ساتلے شوے ــ د ژوند په هر ډګر د امتیاز ښکار پاتې شوې دي ــ روښان فکره شاعران او ادیبان وخت په وخت په منظومه او منثوره توګه د زنانۀ مرستیال دي ــ د هغوي ډاډګیرنه کوي او د هغوي د حقونو ترلاسه کولو دپاره قلمي مبارزه کوي ــ سلیم راز د وطن د لوڼو ، خوئندو او پېغلو په نوم ډېر شاهکار نظمونه لیکلي دي ــ د مثال په توګه "تفریق" نومې نظم ئې زښت ارزښت لري ــ دا یو ډېر اوږد نظم دے چې زۀ وړه ووم نو د هر چا د سترګو تور ووم، ټولو ته ګرانه او قدردانه ووم، چې ورو ورو لوئیدم نو د ستونزو سره مخ کېدو، ژوند راته په هر قدم ګرانېدو او په اخره کښې وائي چې اے خدایه پاکه دا امتیاز او تفریق ولې دے، اخر زۀ دې ولې تخلیق کړې یم ــ په بل یو نظم "پښتنو بیبیانو ته" کښې هغۀ خوئندو ته د عقیدت پېرزوئنې وړاندې کوي چې د تعلیم او هنرونو د زده کړې دپاره بهر راوتې دي ، د هغوي جذبو ته سلام پېش کوي ــ یو بند ئې داسې دے:

" تاسو درشل نه چې د کور بهر قدم
ایښـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــے دے
دغې قدم مو د اغیار په خونه غم
ایښـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــے دے

تاسو د جبر خلاف پورته د طوفان
غونـــــــــــــــــدې شـــــــــــــــــوئ
تاسو د ظلم په تیارو کښې چراغان
غونـــــــــــــــــدې شـــــــــــــــــوئ"[19]

سلیم راز د خپل وس تر مخه د زنانؤ د حقونونو غوښتنه کړې ده ـــ د هغوي په تعلیم او تربیت ئې زور راوړے دے ـــ هغه وائي چې د پرمختګ په دې تېز زغل کښې د هغوي هم قدم کېدل پکار دي ـــ دا د وخت غوښتنه ده ـــ پکار ده چې مونږ په دې خبره په سنجیدګی سره غور وکړو ـــ

حقیقت نګاري:

سلیم راز چې په ټولنیز ژوند کښې څه قسمه زور زیاتے محسوس کړے دے، په هغې ئې سترګې نۀ دي پټې کړې، خبره ئې په ډانګ پیئلي کړې ده، په دې حقله ئې د چا مخ خاطر نۀ دے کړے ـــ حتیٰ چې د وخت ظالم حاکم له ئې هم په سترګو کښې سترګې اچولې دي ـــ د هر قسمه ظلم، بربریت ، بې انصافي، لوټ مار ئې په ګوته کړے دے ـــ د خپل وطن د سیاست، جمهوریت او حالاتو نقشه څه داسې راکاږي:

" څوک بادار ه څوک نادار ه چې وي رازه
د ځنګل قانون به وي په ښاریه کښې"[20]

"چې بې حسابه ئې حساب خوړلے
د څه حساب څۀ احتساب به کوي"[21]

د رهبر په حقله خپله رائې داسې څرګندوي، چې رهبر دې وړومبے د اولس د دردونو او ستونزو نه ځان خبر کړي ، د هغوئ په درد وونو کښې دې شریک شي نو هله دې رهبري کوي:

" د اولس د درد رشته کښې دې شامل شي
د جمهور په وړاندې هله دې رهبر
څي"[22]

د خپل جنت نظیر او ګل ګل وطن نقشه څه داسې راکاږي:

"اوچـــــې شـــــونډې د ســــیند غــــاړه
دا د ټـــــول وطـــــن قیصـــــه ده"[23]

د پـورتـني بـحث نـه مـونـږ تـه دا انـدازه لـګي چې سلیم راز پـه حقیـقت کښې یـو رښتونـے او انـقلابـي او یـو ستـر تـرقـي پـسند شاعر وۀ ـ هغه یـوائې نظریـاتـي تـرقـي پـسند نـۀ وۀ ، بـلـکې پـه دې لـړ کښې پـه عملي تـوګـه هم فعال پـاتـې شوے دے او د تـرقي پـسند نـظرئـې د عمـلي کـولـو دپـاره ئـې یـوه نـۀ ستړې کېدونـکې مـبـارزه کړې ده ـ

حـوالــې

[1] صنوبر حسېن، کاکاجي، "رحمان بابا د خپل وخت ترقي پسند وۀ"، مشموله دري مياشتينۍ تاتره، دانش کتابتون قيصه خوانۍ بازار پېښور، اپرېل-جون ۲۰۰۳ء، مخ ۵

[2] سليم راز، تنقيدي کرښې (درېم چاپ)، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، جنوري ۲۰۱۸ء، مخ ۵۰

[3] سليم راز، د راز لټون (مرکې)، سنګر پبلي کيشنز مردان، جون ۲۰۲۰ء، مخ ۳۴

[4] درد، رحمت الله، سليم راز، فکر ، فن او شخصيت، ملت پرنټرز لاهور، نومبر ۲۰۰۲ء، مخ ۲۷۸

[5] سليم راز، تنقيدي کرښې (درېم چاپ)، مخ ۵۳

[6] سليم راز، زۀ لمحه قتلېږم، ماستر پرنټرز محله جنګي پېښور، دسمبر ۲۰۱۱ء، مخ ۸

[7] هم دغه اثر، مخ ۳۶

[8] خان، مير عبدالصمد، رحمان بابا شاعر انسانيت (دوېم چاپ)، د چاپ ځاے پېښور، ۱۹۸۴ء، مخ ۳۷

[9] سليم راز، زۀ لمحه قتلېږم ، مخ ۱۰۷

[10] هم دغه اثر، مخ ۷۳

[11] هم دغه اثر، مخ ۲۰

[12] هم دغه اثر، مخ ۲۷

[13] هم دغه اثر، مخ ۷۹

[14] هم دغه اثر، مخ ۳۳

[15] هم دغه اثر، مخ ۷۸

[16] هم دغه اثر، مخ ۸۴

[17] هم دغه اثر، مخ ۲۶

[18] هم دغه اثر، مخ ۹۹

[19] سليم راز، ټول جهان سره نزدي ووم، سنګر پبلي کېشنز مردان، ۲۰۲۲ء، مخ ۵۸

[20] سليم راز، زۀ لمحه قتلېږم ، مخ ۲۵

[21] هم دغه اثر، مخ ۲۱

[22] هم دغه اثر، مخ ۲۳

[23] هم دغه اثر، مخ ۳۲